ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

ګڼه ۳۰

نېټه: شنبه، جمادی الثانی ۳ مه ، ۱۴۴۵ هـ . ق کال






# سرلیکنه

په دې وروستیو کې د افغانستان پولي واحد یا افغانۍ خپل ارزښت او ثبات تر ټولو ښه او لوړ ساتلی او د بهرنیو اســـعارو په مقابل کې پورته شوې ده. په رښتیا هم کله چې په افغانستان کې اشغال پای ته ورسېد او د کابل پخوانۍ اداره ړنګه شوه، اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو له دې سره جوخت له نړۍ سره د افغانستان رسمي اړیکې پرې شوې، د افغانستان بانک شتمنۍ د امریکا او د هغوی د پلویانو له لوري کنګل، پر بانکي سیستم بندیزونه ولګېدل، دې او دې ته ورته ځینې نورو عواملو لاسونه ورکړل او له امله یې افغانۍ خپل ارزښت له لاسه ورکړ. خو د اســـلامي امارت له لوري په مدبرانه ډول د بانکي سیســـتم مدیریت، دې ستونزې ته په لنډ وخت کې پای ورکړ او دادی اوس افغانۍ د بهرنیو اســـعارو پر وړاندې نه یوازې داچې ثابته پاتې شوه، بلکې پورته هم شوه.

که چېرې د بهرنیو اسعارو په تېره بیا ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښـــت د ثبات او ښه کېدو عوامل وڅېړو، نو کولای شـــو څو هغو ته یې دلته اشاره وکړو. له ګاونډیو هېوادونو سره د ســـوداګرۍ زیاتېدا، د بهرنیو اسعارو په تېره بیا د کلدارو د چلښت مخنیوی او بهر ته د ډالرو او نورو بهرنیو اسعارو د قاچاق مخنیوی او ځینې نور، هغه لاملونه دي چې د افغانیو د ارزښت له ښه کېدو او ثبات ساتلو سره یې مرسته کړې ده.

په راکړه ورکړه کې د اسلامي امارت له خوا پر کلدارو او نـــورو بهرنیو اســـعارو بندیز، ډېر مهـــم تصمیم دی، د اســـلامي امارت دا تصمیم د ولس له تاوده هرکلي سره مخ شو او همدا یو له هغو لاملونو څخه دی، چې د بهرنیو اســـعارو پر وړاندې یې د افغانیو ارزښـــت او ثبات لوړ ساتلی دی. د افغانیو د ارزښت له لوړېدو سره په بازارونو کې د خوراکي توکو په ګډون د ځینو شیانو په بیه کې ټیټوالی راغلـــی دی. ددې په خوا کې یو بل مهم ګام چې د اســـلامي امارت له لوري پورته شو هغه دا و چې اسلامي امارت له حکومتي مســـوولینو او هېوادوالو په کلکه وغوښـــتل چـــې باید له خپلو کورنیـــو یا افغاني تولیداتو ګټه پورته کړي. د مسوولینو پرله پسې غوښتنې دا دي، چې ســـوداګر او په تېره بیا پیرودونکي دې له کورنیو تولیداتو ګټه پورته کـــړي او د ژوندانه د اړتیا وړ لومـــړني توکي دې د خپل هېواد وکاروي. که په کورنیو بازارونـــو کې د امکان تر کچې خپل کورني تولیدات او صنایع وکارول شي، نو دا به د افغانیو د ارزښت او ثبات لوړ ساتلو لپاره او دغه راز د افغانۍ د ثبات په برخه کې مثبت اغېز ولري. دغه راز اســـلامي امارت د افغانیو د ارزښت ساتلو په برخه کې یو بل مهم ګام هم پورته کړی دی او هغـــه دادی چې بهر ته د ډالـــرو او نورو بهرنیو اســـعارو د وتلو مخـــه یې نیولې ده چـــې دې چارې د افغانۍ د ارزښت پر ثابت ساتلو مثبته اغېزه کړې ده.

که موږ پورتنیو موضوعاتو ته ځیر شـــو نو دې پایلې ته رســـېږو چې اسلامي امارت د خپلې مدبرانه او ځیرکانه پالیسۍ په غوره کولو سره پر دې توانیدلی چې له ټولو ســـتونزو، بندیزونو او ناخوالو سره سره د افغانۍ ارزښت ثابت وساتي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هېواد د پرمختګ په برخه کې داســـې ګامونه اخلي چې هغه د هېواد د اقتصادي ودې ترڅنګ د نورو برخو د ترقۍ او پرمختګ لامل ګرځي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په کابل نړیوال هوایي ډګر کې یو شمېر پروژې پرانیستلې




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۲٦مه نېټه په کابل نړیوال هوایي ډګر کې یوشـــمېر پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. په یادو مراسمو کې پر محترم ملا صاحب سربېره د ترانسپورټ او هوایي چلند سرپرســـت وزیر ملا حمیدالله اخوند زاده، د کابل نړیوال هوایي ډګر مسوولینو، د خصوصي سکټور استازو او یوشمېر ملي سوداګرو او پانګوالو حضور درلود.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د تېرو ۴۰ کلونو پر مهال د جګړو او ناخوالو لـــه امله د نورو برخو ترڅنګ د هېواد زېربنـــاوو ته هم ډېر زیان رســـېدلی، چې لـــه امله یې اقتصاد هم متضرر شوی دی. له فتحې وروسته اسلامي امارت د نـــورو برخو ترڅنګ د زېربناوو رغولو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، چې په مختلفو برخو کې د امارتي ادارو فعالیتونه یې ښې بېلګې دي.

د محـــترم ملا صاحب په خبره، دا د ټولـــو افغانانو او په ځانګړي ډول د ملي سوداګرو او پانګوالو مسوولیت دی چې د خپل توان مطابـــق د هېواد په بیارغونه کې برخه واخـــلي او پـــه هغو برخو کـــې د پانګونې لـــه فرصتونو استفاده وکړي، چې هغه د افغانانو لومړیتوب دي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادو مراسمو ته

وویـــل، د یو هېواد د پرمختګ لپاره امنیت تر ټولو مهم شرط دی، چې اوسمهال په افغانستان کې سرتاسري امنیت ټینګ شـــوی او په مختلفو برخو کې د پانګونې لپاره ښه فرصتونه برابر شوي. محترم ملا صاحب په بهر کې پر مېشتو افغان پانګوالو غږ وکړ چې خپل هېواد ته راستانه شي او دلته له خپل ولس سره یوځای د هېواد په آبادي او بیارغونه کې په ګډه کار وکړي.

محترم ملا صاحب د اسلامي امارت له لوري ټولو پانګوالو، ملي سوداګرو او صنعتکارانو ته د بشپړ ملاتړ ډاډ ورکړ او پر ټولو امارتي ادارو يې غږ وکړ، چې د ملي سـوداګرو او پانګوالو بدني او رواني امنیت ته پاملرنه وکړي او ستونزې یې پر وخت حل کړي.

د یادونـــې وړ ده چې په کابل نړیوال هوايي ډګر کې د لســګونو میلیونو افغانیو په ارزښت د خصوصي سکتور له لوري یوشمېر متوسطې او کوچنۍ پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.



## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته د هرات ولایت د پل هاشمي سب سټېشن جوړولو، له نورالجهاد سب سټېشن څخه تر پل هاشمي سب سټېشن پورې د ۲۲۰ کیلو ولټ سنګل سرکټ د انتقال لین او په هرات ولایت کې د ۲۲۰ کیلو ولټ موبایل سب سټېشن پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې تر هراړخیز بحث وروسته یادې پروژې د اقتصادي کمېسیون له لوري په پرنسیپ کې تایید او د نظر اخیستنې لپاره د اوبو او انرژۍ وزارت ته راجع شوې تر څو یې په اړه خپل نظر له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي. پر یادو پروژو ۲۵ میلیون ډالره پانګونه کېږي، چې په بشپړېدو سره به یې له ترکمنستان څخه ۲۲۰ کیلو ولټ برېښنا لین هرات ولایت ته وصل شي.

په یاده غونډه کې همدا راز د ۷۷ ترکي او زولرستان شرکتونو له لوري د کابل ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ۲۲،۷۵ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژه هم د منظورۍ لپاره وړاندې شوه، چې تر هراړخیز بحث وروسته په پرنسیپ کې تایید او د نظر اخیستنې لپاره اوبو او انرژۍ وزارت ته راجع شوه، څو د یادې پروژې په اړه خپل نظر له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي.

د غونډې په پای کې په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام د بشري مرستو رسوونکو موټرونو د خاک پولي او ترازوګانو د فیس په اړه هم هراړخیز بحث وشو. تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام د بشري مرستو رسوونکو موټرونو ته خاک پولي او د ترازوګانو فیس معاف دی او هغه خصوصي ترانسپورتي شرکتونه به بیا دا فیس تادیه کوي، چې د خوړو نړیوال پروګرام سره د بشري مرستو رسولو قراردادونه لري. همدارنګه د خوړو نړیوال پروګرام مکلف وبلل شو څو د ټولو هغو توکو خریداري په افغانستان کې دننه وکړي چې دلته پیدا کېږي.



## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د پانګونې وړاندې شوو طرحو په اړه هراړخیز بحث وشو. یادې ناستې ته د خصوصي سکتور له لوري د کابل په ابن سینا او شیخ زاید روغتونونو او همدارنګه د جلال آباد په حوزوي روغتون کې د تصویري تشخیصیه او معیاري لابراتواري خدمتونو وړاندې کولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. تر هراړخیز بحث وروسته یادې طرحې په پرنسیپ کې تایید او د چارو اداري د پانګونې اسانتیاوو



رياست په مشرى د عامې روغتيا وزارت او خصوصي سکټور له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادو طرحو اقتصادي او تخنيکي ارزونه ترسره او خپل راپور د يوې مياشتې په جريان کې دغه کمېټې ته را واستوي.

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې دغې ناستې ته د نوي عمر سوداګريز او ساختماني شرکت له لوري د هلمند ولايت په لښکرګاه ښار کې د سوداګريز مرکز او هستوګنيزو اپارتمانونو جوړولو طرحه هم د بحث لپاره وړاندې شوه. تر هراړخيز بحث وروسته د چارو اداري اړوند د ښاروالیو عمومي رياست ته دنده وسپارل شوه، څو ياده طرحه د هلمند ولايت له ښهري پلان سره وګوري او د يوې اوونۍ په جريان کې خپل راپور له کمېټې سره شريک کړي.



# د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت فعاليتونه او د هېوادوالو نظرونه درې مياشتنۍ تحليلي راپور خپور شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د روان لمريز کال د سنبلې له لومړۍ بيا د عقرب تر ۳۰مې نېټې پورې د ترسره شويو فعاليتونو په اړه «د اقتصادي معاونيت فعاليتونه او د هېوادوالو نظرونه» تر سرليک لاندې ځېرنيز راپور چمتو او خپور کړ. د دې راپور موخه د خلکو نظرونو روښانتيا او هغو ته پاملرنه ده.

دا تحليلي راپور د « د ٦,٥ مېليارد ډالرو په پانګونې سره د ۷ لويو کانونو قراردادونه لاسليک، ۱۴۰۲کال په لومړيو پنځو مياشتو کې د ۴۹ مېلياردو افغانيو په ارزښت شوي صادرات، کابل کې«د افغانستان سوداګريزې او اقتصادي اړيکې» تر سرليک لاندې کنفرانس جوړېدل، پانګوالو ته د اسانتياوو برابرولو له پاره د پانګونې بين الوزارتي کميته جوړېدل، د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې پرانيسته، د دېارلس مېلياردو افغانيو په ارزښت د ۵۰ ښلا ښلو پروژو منظورېدل، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سيمو ليدنه، د قوش تېپې کانال؛ په بشپړېدو به يې د کرنې په برخه کې د انقلاب راتلل »او دې ته ورته يو لړ نور موضوعات رانغاړي.

دا هغه موضوعات دي چې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د هېواد د اقتصادي ودې او دغه راز د هېواد د بيارغونې په خاطر په پام کې نيولي دي چې ځينو يې عملي بڼه خپلې کړې او د يو شمېر د عملي کېدو له پاره قوي هوډ لري.

د دغو موضوعاتو په اړه په دولتي او خصوصي رسنيو او همدا راز ټولنيزو شبکو کې خلکو خپل نظرونه شريک کړي او موږ د دوی نظرونه د علمي معيارونو په نظر کې نيولو سره تحليل او ارزولي دي.

د يادو موضوعاتو په اړه د هېوادوالو نظرونه پر مثبتو، منفي او وړانديزونو وېشل شوي، د مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو مجموعي شمېر ۴۲۷٦۲ دی چې له دې جملې ۳۷۳۹۹ د مثبتو نظرونو شمېر دی چې د مجموعي شمېر ۸۷ سلنه جوړوي، د منفي نظرونو شمېر ۳٦۷۹ دی چې د مجموعي شمېر ۹ سلنه جوړوي همدا ډول د وړانديزونو شمېر ۱٦۸۴ دی چې د مجموعي شمېر ۴ سلنه جوړوي.

د هېوادوالو د نظرونو د تحليل او ارزونې پايلې دا په ډاګه کوي چې هېوادوال د افغانستان اسلامي امارت له لوري په اقتصادي برخه کې د ترسره شويو کارونو څخه خوښ او په راتلونکې کې ددې ډول پلانونو د تطبيق غوښتنه کوي.



ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونیزه
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه




# مروری بر اهمیت پروژه

# کاسا یک هزار

نویسنده: هدایت الله واحدی

## مقدمه

پروژه کاسا ۱۰۰۰ به عنوان یکی از مهمترین زیربنا های بازار منطقوی انرژی برق است، که با ظرفیت انتقال ۱۳۰۰ میگاوات از کشور های قرقزستان و تاجیکستان به کشور پاکستان از مسیر افغانستان، بستر بسیار مناسبی را برای آغاز معاملات خرید و فروش انرژی برق در منطقه فراهم می نماید. با انتقال انرژی برق از آسیای مرکزی به آسیای جنوبی، منافع اقتصادی مشترک کشور های آسیای مرکزی و آسیای جنوبی در یک تجارت منطقهای تأمین خواهد شد. نقش افغانستان به عنوان یک کشور مؤثر در ترانزیت انرژی برق در منطقه تثبیت گردیده و در عین حال حضور و کسب عواید حاصله از ترانزیت انرژی برق در این پروژه، عاملی برای تقویت ثبات و رشد اقتصادی افغانستان پیش بینی شده است. افغانستان و پاکستان از جمله کشور های در حال توسعه هستند که از عدم انرژی و یا کمبود آن رنج می برند، از طرفی دیگر کشور های آسیای میانه به خصوص قرقزستان و تاجیکستان از وافر بودن انرژی برخوردار هستند. از همین خاطر برای مرفوع ساختن نیازمندی های خویش افغانستان و پاکستان به انرژی کشور های آسیای میانه به ویژه برق آن ضرورت دارند. افغانستان افزون براینکه به انرژی برق مازاد کشور های آسیای مرکزی نیاز دارد، می تواند منحیث يك پل ارتباطی میان کشور های آسیای جنوبی و مرکزی برای انتقال انرژی نیز باشد. روی همین ملحوظ کشور های آسیای مرکزی و جنوبی می خواهند تا بزرگترین پروژه انتقال انرژی برق را از طریق افغانستان رقم بزنند که این پروژه کاسا ۱۰۰۰ است. در نوشته حاضر پیرامون پس منظر این پروژه ، سرمایه گذاری و اهمیت آن نکاتی را به گونه ای اجمالی به رشته تحریر در آورده ام.

## مکثی بر پس منظر پروژه کاسا ۱۰۰۰

کاسا یک هزار پروژه انتقال و تجارت برق آسیای مرکزی و آسیای جنوبی بوده که در نشست همکاری های اقتصادی تحت عنوان "ریکا" بار نخست در سال ۲۰۰۵میلادی پیشنهاد گردید. سرانجام تصمیم بر آن شد تا این پروژه در سال ۲۰۲۰ به تطبیق گرفته شود. این پروژه در سال ۲۰۰۷ به منصۀ بررسی و ارزیابی قرار گرفت و تفاهمنامه مقدماتی آن بین ۴ کشور ذیدخل در این پروژه ( افغانستان، پاکستان، تاجیکستان و قرقزستان در نوامبر ۲۰۰۷ در استانبول به امضاء رسید. سپس مطالعات امکان سنجی پروژه مذکور در ۲۰۱۱ میلادی توسط شرکت کانادایی موسوم به لاوالین به حمایت مالی بانک جهانی انجام شد. بعداً در دوازدهم می ۲۰۱۶ پروژه یاد شده به شکل رسمی براه انداخته شد و طبق پلان باید در سال ۲۰۲۰ به بهره برداری سپرده می شد. ولی در اثر شرایط نا مساعد امنیتی در بعضی از این کشور های ذیدخل و بعضی عوامل دیگر عملی نشد. مصارف مجموعی این پروژه اضافه تر از یک میلیارد دالر تخمین گردیده است. می توان این خلاقیت را یک پروژه اتصال منطقهای دانست که منظور آن سهولت تجارت برق میان کشور های آسیای مرکزی و آسیای جنوبی می باشد و مبین تلاش قابل ملاحظۀ در حصه زیربنا های انرژی تجدید پذیر است که به این وسیله ۱۳۰۰ میگاوات برق مازاد را از طریق زیربنا های انرژی تازه ساخته شده از آسیای مرکزی به بازار های پر تقاضا و کم بهره در جنوب آسیا منتقل می کند. این پروژه با ایجاد یک خط انتقال برق که از داتکا در جمهوری قرقزستان شروع شده و از تاجیکستان، افغانستان و در نهایت به پیشاور پاکستان می گذرد، صادرات مازاد برق از قرقزستان و تاجیکستان به پاکستان را از طریق کشورِ پیوند دهنده یعنی افغانستان تسهیل می کند.



## مزایای عمده پروژه کاسا-۱۰۰۰ برای افغانستان:

۱- اشتراک در تعاون و همکاری منطقه‌ای.
۲- شناخته شدن افغانستان به عنوان شریک با اعتبار در انکشاف منطقه‌ای.
۳- اخذ ۳۰۹میلیون دالر امریکایی کمک بلا عوض بانک جهانی برای تمویل مالی پروژه بخش افغانستان.
۴- قبول حق افغانستان به سطح بین المللی مبنی بر اخذ ترانزیت از بابت انتقال انرژی از داخل خاک افغانستان.
۵- اخذ مالیه (ترانزیت) از فی کیلو وات برق در ساعت که از طریق افغانستان به پاکستان ترانزیت می شود. این عواید به ترتیب ذیل تخمین گردیده است:



## نتیجه‌گیری

در صورت عمل شدن کامل پروژ کاسا ۱۰۰۰، این جریان انتقالی نقطه عطفی در صنعت انرژی منطقه خواهد بود و به کشوری چون افغانستان اجازه می دهد تا نقش خود را به عنوان یک کشور ترانزیتی بین آسیای مرکزی و آسیای جنوبی تثبیت کند. در کل هر چهار کشور دخیل می توانند از این مزیتِ چند ملیتی و ارتقاء دسترسی به انرژی های تجدید پذیر، بهره ببرند. این پروژه می تواند با اجازه دادن به واردات برق ارزان و تضمین امنیت برای کشور های وارد کننده، و همچنان قیمت حاصل از فروش برق به خریداران جدید و مصارف ترانزیت برای کشور های صادرکننده اقتصاد همه کشور های دخیل را بهبود بخشد. افغانستان پل ارتباطی میان آسیای جنوبی و مرکزی است و مهمترین کشور در سرمایه گذاری مشترک دو منطقه می باشد. افغانستان باید نقش کلیدی خود در تحقق جاه طلبی های اتصال فزیکی را به بهترین نحو ایفا کند، زیرا این کشور ارتباط دهندهٔ آسیای مرکزی و جنوبی است. شایان ذکر است که تکمیل کاسا یک هزار به دلیل اتصال فزیکی، گامی در تحقق شبکه ریلی محسوب شده است. این امر باعث ایجاد اعتماد در میان کشور های شریک می شود که می تواند سایر کشور های همسایه را برای تبدیل شدن به بخشی از پروژه یا سرمایه گذاری مشترک در آینده برای ایجاد صلح و رفاه جمعی در دو منطقه جذب کند. از سرگیری کار روی پروژه های حیاتی مانند کاسا یک هزار، تاپ، توتاپ و تاپی امید تازه ای را برای ثبات اقتصادی و یکپارچگی منطقه‌ای افغانستان به ارمغان می آورد. این تلاش ها نه تنها نیاز های انرژی افغانستان را برطرف می سازد، بلکه افغانستان را به عنوان یک بازیگر کلیدی در چشم انداز انرژی منطقه قرار می دهد. با پیشرفت این ابتکارات، امکان تبدیل شدن افغانستان به مرکز رشد اقتصادی و اتصال در قلب آسیای مرکزی و جنوبی حتمی خواهد شد.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سـراى کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۹,۷۵؋ | ۶۹,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۷؋ | ۲۳۸؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۳۸؋ | ۱,۴۰؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۶,۰۰؋ | ۷۶.۲۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۶۶؋ | ۰.۷۶؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۲۹؋ | ۸۳۹؋ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ۸۸,۵۳؋ | ۸۸,۵۹؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۵۷؋ | ۱۸,۶۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹.۱۰؋ | ۱۹.۲۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۸۷؋ | ۹,۹۷؋ |